# د پښتو ژبي لنډ ګرامر

عبدالعلي رسولزاده

20180218

# تر پیل د مخه خبري

د پښتو ژبي دغه لنډ ګرامر څه موده مخکي ما عبدالعلي رسول زاده په سویډن کي د پښتو ژبي د زدکوونکو لپاره و لیکی. هغه پښتو ژبي زدکوونکي چي په سویډنیو ښونځیو کي په زدکړه بوخت دي د هغو زدکړو تر څنګ په ښوونځي کي خپله مورنۍ ژبه هم لولي. په ښوونځي کي نه یوازي سویډني ژبه زده کوي بلکي تر څنګ ئې انګلیسي د دوهمي ژبي په توګه او جرمني یا فرانسوي یا هسپانوي یا کومه بله اروپایي ژبه د دریمي ژبي په توګه زده کوي.

که کوم زدکوونکی په ښوونځي کي خپله مورنۍ ژبه هم زده کوي نو نوموړی باید د دغو دو ژبو تر منځ په شباهتونو او توپیرونو هم و پوهیږي.

پورتني هدف ته د رسېدلو لپاره اړتیا وه چي دغه سي یو لنډ ګرامر راټول سي چي د یوې خوا زدکوونکو ته سخت نه وي او له بلي خوا ئې لومړی د سویډني ژبي سره او بیا د هغو نورو ژبو د زدکړي سره مرسته و کړي. زه پوهېږم چي دغه ګرامر ډېر لنډ دئ. خو د هغو څو کلونو تدریس له مخي چي مي نوموړو زدکوونکو ته کړی دئ دغه لنډ ګرامر مناسب و باله.

په دغه لیکنه کي په 2012-06-13 ځیني سمونونه راوړل سول. اوس مي په 20180218 بیا لږ تغییرات را وړل. خدای دي و کي چي خوښ مو سي.

عبدالعلي رسول زاده
مالمو سویډن
alirasulzada@hotmail,com

بسم الله الرحمن الرحيم

# د پښتو ژبې لنډ ګرامر

ګرامر هغه پوهه ده چي سړي ته ور ښيي څرنګه په خبرو او ليکنو کي کلمې او نښانې (ټکی ، کامه ...) په سمه توګه ځاى پر ځاى کړي . هره ژبه ځانته ګرامر لري چي مثالونه به ئي لږ وروسته را وړو .

د هري ژبې خبري له يو شمېر ږغونو څخه جوړي سوي وي . کله چي د يوې ژبې خبري کوونکو د خپلې ژبې ليکلو ته اړتيا موندلې ده ، د هر هغه ږغ لپاره ئي يوه نښه يا سمبول جوړ کړى دئ ، چي د ټولو ږغونو سمبولونو ته د هغې ژبې الفبې ويل کيږي .

د پښتو ژبې د الفبې توري په لاندي ډول ليکل کيږي :

ا ب پ ت ټ ث ج چ ح خ ځ څ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش
ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ و ه ى ي ې
ۍ ئ . د الفبې پر تورو سربېره په پښتو کي (زورَ ، زېرِ ، پېښُ او زورکى) هم په کلمو کي د واول تورو په شان کارول کيږي .

په پورتنيو تورو کي دغه لاندي اته توري خاص د پښتو توري دي :

ټ ځ څ ډ ړ ږ ښ ڼ

که څوک غواړي چي سوچه پښتو خبري یا لیکنه و کړي نو هغه کلمي دي په خپلو لیکنو او خبرو کي خوښي کړي چي د دغو اتو تورو څخه یو یا څو توري پکښي راغلي وي.

د الفبي په پورتنیو تورو کي دغه لاندي لس توري د عربي ژبي توري دي یعني که په کومه کلمه کي یو یا څو د دغو تورو څخه راغلي وي نو هغه کلمه عربي ده:

ث ح ذ ص ض ط ظ ع ف ق

د پښتو ژبي ږغ لرونکي توري:

په پښتو کي (و ا ي ي ) ږغ لرونکي توري یا vowel او هغه نور توري بي ږغه یا consonant دي.

consonant یا بي ږغه توري لکه: ( ب پ ت ټ ث ج چ ح خ څ ځ د ډ ذ ر ړ ز ږ ژ س ش ښ ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن ڼ ه ی ې ئ).

vowel یا ږغ لرونکي توري لکه :

(ا ، و ، ي ، ې) .

واول توري په کلمو کې کانسونانت یا بې ږغه توري سره نښلوي او یا یې په حرکت را ولي ځو له دې لاري کلمې جوړي کړي . دا باید و وایو چي نه یواځي واول توري کلمې جوړوي بلکي (زور ، زېر، پېښ او زورکی) هم د واول په شان کار ور کوي مثالونه ئې لکه :

کالي : په کا کي (ا) او لي کي (ي) واول دي .

موټر : په مو کي (و) او ټر کي پر (تَ) زورکی واول دي .

انګور : په (انـ) کي د الف پر سر زور او په (ګور) کي (و) واول دي .

په پښتو کي (ی) لاندي ډولونه لري :

۱ ـ نرمه (ی) لکه سپی ، سړی ، غويی ، ځای ، زوی ، دی او داسي نور .

۲ ـ لنډه (ي) لکه کالي ، بنګړي ، مامي ، دي ، سپي ، سړي ، لرګي او نور .

۳ ـ اوږده (ې) لکه ادې ، شيدې ، مستې ، پايڅې ، ډېر ، تېر او نور .

۴ ـ درنه ښځينه (ۍ) ډوډۍ ، ګاډۍ ، چوکۍ ، غالۍ ، ملالۍ او نور .

دغه (ی) زیاتره وختونه د مونث یا ښځینه نومو لپاره راځي.

۵ ـ درنه فعلي (ئ): دغه ثقیله (ئ) زیاتره د امریه فعلونو لپاره را ځي لکه: و کړئ!، راوړئ!، را ئي وړئ، و خورئ! او نور.

1 ـ تمرین:

په لاندي جملو کي د خپل تلفظ له مخي (ی) صحیح کړئ او بیا یې د کتاب په پای کي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

یو سړی ډاکتر ته ورغی او د خپلی ناروغی څخه یی شکایت وکړ.

ډاکتر ور ته وویل: "ولی وختی را نه غلی".

ناروغ ورته وویل: "پخوا می د یوناني طبیب څخه دوا اخیستله".

ډاکتر وویل: "هغه مزخرف سړی دی او د څو مزخرفو دواوو نومونه یی زده دی او ډیر نه پوهیږی".

ناروغ وویل: "هو! ستا مزخرف نوم یی هم زده وو".

## په پښتو کي (و):

په پښتو کي (و) دوه ډوله تلفظ کیږي مګر په لیکلو کي دواړه یو شان لیکل کیږي لکه:

1ـ اوږد ( و ) لکه :

زانګو ، بیزو ، ښارو ، کاکو او نور. چي زیاتره د مونث ( ښځینه ) نومو لپاره راځي.

2ـ ( و ) لکه :

کډو ، بازو ، زوی ، بوی لوی ، خوی ، توی او نور. چي زیاتره د مذکر ( نرینه ) نومو لپاره راځي.

## کلمه Word

هره معنا لرونکي خبره چي انسان ئي تر خوله را باسي کلمه بلل کیږي لکه زه ، دوی ، مېز ، کتاب ، ته ، دی او نور. کلمه لاندي ډولونه لري :

| | |
|---|---|
| اسم ( نوم ) | **Noun** |
| ضمیر | **Pronoun** |
| صفت | **Adjective** |
| فعل | **Verb** |
| قید | **Adverb** |
| د وصل یا یو ځای کولو توری | **Conjunktion** |
| د ارتباط توری | **Preposition** |

# Noun اسم یا نوم

اسم هغه کلمه ده چې د یو شي، انسان، حیوان یا ځای نوم وي لکه :
سړی، کتاب ، ښوونځی، کور، موږک، ښار، کاغذ، افغانستان، خوب، ژړا، خندا او نور .

## 2_ تمرین :

په لاندې کرښو کې اسمونه پیدا کئ او بیا یې د جوابو له پاڼې سره وګورئ !

یوه سلماني د یوه سړي سر په پخه چاړه ور خرایه او پر سر یې ویني را بهیدې. پدې وخت کې سلماني پوښتنه ځیني و کړه : " څو ورونه یاست"؟

سړي جواب ور کړ:" که ستا له چړې څخه ژوندی پاته سوم نو درې ورونه یو ".

اسم پر دوه ډوله دئ لکه عام اسم او خاص اسم :

### الف ـ عام اسم :

عام اسم هغه اسم ته وایي چې د هغه جنس د ټولو غړو نوم وي لکه :
مېز، کتاب، هلک، ښځه، ښار، قلم ، غوا او نور.

### ب ـ خاص اسم :

هغه اسم ته وايي چي د هغه په ډول بل نه وي، لکه احمد ، کابل، هرات، حليمه، جرمني، لمر ، مځکه او نور .

### 3 ـ تمرين :

په لاندي جملو کي عام او خاص اسمونه پيدا کئ او بيا يې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ !

کله چي احمد شاه بابا د هندوستان تر سفر وروسته د خپل لښکر سره بيرته د کندهار خوا ته را رهي سو، د کندهار ښار ته نيژدې ئې د شپې تېرېدو تياري و نيول . يو عسکر په تېښته کور ته ولاړ .

اسم د شمېر له مخي يا مفرد (يو ) وي او يا جمع (ډېر) وي .

مفرد يعني (يو ) لکه قلم، کاغذ ، مېز، سړی او نور .

جمع يعني ( ډېر ) لکه قلمان، کاغذونه، مېزونه ، سړي غواوي يا غواګاني ، وري ، او نور .

### 4 ـ تمرين :

په لاندي جملو کي لومړی اسمونه پيدا کئ او بيا ئې جمعي و ليکئ !

يوه غله د يوه سړي د كور دېوال سورى كړ او كور ته ننوت. د كور خاوند پر را وينښ سو. غل و ببربډى او و ئي غوښتل چي د دېوال تر سوري و وزي. د كور خاوند تر پښه و نيو. غله ناره كړه: "وروره! دغه پښه مي خوږيږي، هغه بله پښه مي و نيسه". د كور خاوند د غله پښه ايله كړه، غل ځني و تښتيد.

## اسم د حالت له مخي يا فاعل وي يا مفعول:

### فاعل subject:

فاعل هغه څوک ياشي دئ چي يو كار كوي يعني فعل يا كار د ده له خوا تر سره كيږي لكه: په لاندي جملو كي كومي كلمي چي سور رنګ لري فاعل دي.

احمد ښوونځي ته ولاړ.

مور كابل ته ځو.

تاسي چيري ځئ؟

هغه به را سي.

### مفعول :object

مفعول هغه څوک دئ چي د فاعل فعل يا كار پر تر سره كيږي لكه:

په لاندي جملو کي هغه کلمې چي سور رنګ لري مفعمل دي :

زمرک سدو ته و ویل .

په لوړه جمله کي سدو مفعول دئ ځکه چي د ویلو فعل پر ده تر سره کیږي .

ښوونکي زدکوونکي ته و ویل .

احمد کور ته ولاړ .

5 ـ تمرین :

په لاندي جملو کي فاعل او مفعول پیدا کئ او بیا ئي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ !

( خوشال انځر ګل ته و ویل ، د جمعې په ورځ به موږ احمد و وینو . احمد یو ډېر ښه تلویزیون لري، موږ به په هغه تلویزیون کي د فټبال لوبه و ګورو . بیا به موږ د احمد له پلار سره خبري و کړو ).

اسم د جنس له مخي درې ډوله دئ لکه :

1ـ مونث ( ښځه ) : لکه غوا، پښه ، پیاله ، انا، بیزو ، نجلۍ ، کوځه، پاڼه او نور .

2 ـ مذکر (نر) : لکه نیکه، پلار، ورور، توتي ، مېز ، زوی ، تره، موټر ، سړک او نور .

3 ـ مستوي جنس : چي دواړو نر او ښځي ته یو ډول را ځي لکه : مېږی، شپږه، کیکه، مچ ، غوماشه او نور .

## pronoun ضمیر

ضمیر هغه کلمه ده چي د اسم یا نوم پر ځای را ځي لکه :

| | |
|---|---|
| زه | موږ |
| ته | تاسي |
| دی، دا، دغه ، هغه | دوی ، هغوی |
| زما | زموږ |
| ستا | ستاسي |
| د ده، د دي | د دوی |
| د دغه | د دغو |

په لاندي جملو کي د ضمیرونو مثالونه و ګورئ ! هر ضمیر سور رنګ لري :

دي لوست زده کړ.
زه ستوکهولم ته ولاړم.
ما دده سره خبري وکړې.
ته ولي نه وې را غلی؟

**6 - تمرین:**

په لاندي جملو کي ضمیرونه پیدا کئ او بیا یې د جوابو له پاڼې سره وګورئ:

ده د دوی سره خبري کولې چي د دې ورور را غئ.

ما د دې کتابونه ور وړه.

تا ولي دوی ته خبر ور کړ چي زما قلم ورک سو؟

**ضمیر درې حالته لري لکه:**

- متکلم first person
- مخاطب second person
- غایب third person

متکلم هغه څوک دئ چي خبري کوي لکه:

زه کور ته ځم . دلته (زه) متکلم دئ .

موږ کور ته ځو . دلته (موږ) متکلم دئ .

ما احمد ته و ویل . دلته (ما) متکلم دئ .

## مخاطب هغه څوک دئ چي متکلم خبري ور ته کوي لکه :

ته کور ته ولاړ سه . دلته (ته) مخاطب دئ .

تاسي کور ته ولاړ سئ . دلته (تاسي) مخاطب دئ .

## غايب هغه څوک دئ چي متکلم د مخاطب سره د ده په باره کي خبري کوي لکه :

دی کور ته ځي . دلته (دی) غايب کلمه ده .
دا کور ته ځي . دلته (دا) غايب کلمه ده .
دغه را وږه . دلته (دغه) غايب کلمه ده .
دوی کور ته ځي . دلته (دوی) غايب کلمه ده .

## متکلم، مخاطب او غايب مفرد او جمع لري لکه :

| | |
|---|---|
| د متکلم مفرد | زه، ما |
| د متکلم جمع | موږ |
| د مخاطب مفرد | ته، تا |

| | |
|---|---|
| د مخاطب جمع | تاسي |
| د غایب مفرد | دی، دا، دغه |
| د غایب جمع | دوی |

## 7 ـ تمرین :

په لاندي جملو کي متکلم، مخاطب او غایب ضمیرونه پیدا کئ !

تاسي د دې په باره کي ده ته خبري کړي دي .

دوی ده ته کتاب ور کړ .

ما لا خپل لوست نه وو خلاص کړی چي دوی را غله .

تا چي زموږ سره خبري و کړې دوی را غله .

هغې چي تاسي و لیدلاست ډېره خوشاله سوه .

## د ضمیر ډولونه :

دلته به لاندي به دغه دري ډوله ضمیرونو مثالونه را وړو :

### فاعلي ضمیرونه :

زه ، ما ـ لکه : زه ښوونځي ته ځم . ما ډوډۍ و خوړه .

موږ ـ لکه : موږ ښوونځي ته ځو .

ته ، تا ـ لکه : ته کار کوې . تا کار و کړ .

تاسي ـ لکه : تاسي کار کوی ( کوئ ) .

دی ، ده ـ لکه : دی ډوډی خوري . ده و ویل .

دا ، دې ـ دا کالي مينځي . دې کالي و مينځل .

دغه ، دغي ـ دغه را ځي . دغي و ویل .

دوی ـ دوی ښار ته ولاړل .

## مفعولي ضميرونه :

زه ، ما : احمد زه و وهلم . احمد ما ته و ویل .

موږ : دوی موږ وهي .

ته ، تا : احمد ته و وهلې . احمد تا ته و ویل .

تاسي : محمود تاسي بيايي.

دی : سدو دی و واهه .

دا ، دې : محمود دا بيايي . محمود دې ته و ویل .

دغه : احمد دغه له ځانه سره وړي .

دوی : زه دوی ته وايم .

## ملکي ضميرونه :

زما : زما کتاب .

زموږ : زموږ کالي .

ستا : ستا ښوونځی چيري دئ ؟

ستاسي : ستاسي کور چيري دئ .

د ده : د ده قلم مات سو .

د دې : د دې موټر خراب سو .

د دغه : د دغه ښځه کتاب را واخله !

د دوی : د دوی کالي خیرن دي .

د خوا یا سمت ضمیر : د خوا ضمیرونه هغه ضمیرونه دي چي متکلم ، مخاطب او غایب ته اشاره کوي . د خوا ضمیرونه درې دي لکه : را ، در او ور . دغه ضمیرونه ځکه دلته را وړل سوي دي چي په زیاترو وختو کي ئې خلک په خبرو کي (در) د (تر) د رابطې سره ګډوي . مثالونه ئې :

د متکلم خوا ته : را ځه ! دلته متکلم مخاطب ته وایي ، را ځه !

د مخاطب خوا ته : در ځه ! متکلم دلته مخاطب ته وایي ، در ځه !

د غایب خوا ته : ور ځه ! متکلم دلته مخاطب ته وایي ، ور ځه!

غلطي د در او تر په ګډولو کي را ځي ، هغه دا چي متکلم وایي :

در څو به زه تا ته ولاړ یم ؟ اصلا باید و وایي ، تر څو به زه تا ته ولاړ یم ؟

په لومړۍ جمله کي سړی دا سي هم ویلای سي : در څو به زه در ته ولاړ یم . په دغه جمله کي لومړی (در) باید پـه تـر واوړي او دوهم (در) سم دئ .

## Adjectiv صفت

صفت هغه کلمه ده چي په جمله کي پر اسم تاثير کوي لکه :
جګ سړی، توره غوا، زوړ کتاب، کوچنی هلک، ښه مېوه او نور.

دلته جګ، توره، زوړ، کوچنی، او ښه صفتونه دي.

**8 ـ تمرين :**

په لاندي جملو کي صفتونه پيدا کړئ ! بيا يې د کتاب په پای کي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

احمد ښه زدکوونکی دئ.

زموږ کور په هغه سره تعمير کي دئ.

احمد چي را غی د ځانه سره ئې يو ښکلی بايسکل را ووست.

پدې لوی ښار کي د برېښنا جګي پايي سته.

## Verb فعل

فعل هغه کلمه ده چي د يوه کار کول ښکاره کوي لکه : ځم، خورو، ليکې، را وړئ، ګوري، خاندي ، ځو ، را غلو او داسي نور.

### 9ـ تمرين :

پدې لاندي جملو کي فعلونه پيدا کړئ !

ميرويس د ښوونځي څخه را ځي . پر لاري د احمد ورور ور سره ملګرى کيږي . بيا نو د کتاب خرڅوونکي له دکان څخه کتابونه را اخلي . کله چي ئې کتابونه را وړل د خپل ښوونکي سره خبري کوي .

د فعل يا کارکولو څخه وخت هم ښکاره کيږي لکه حال ( اوس )، ماضي ( تېره زمانه ) او استقبال ( راتلونکې ) زمانه . اوس به دلته هره هره زمانه و لولو :

## لومړى ـ حال present :

هغه زمانه ( وخت ) دئ چي يو کار اوس کيږي لکه :

ځم ، ليکي، خورى، وړى ، ولاړ ، را ځي ، کوي ، خوري ، نړوي ، ابادوي او نور .

مثالونه ئې :

زه افغانستان ته ځم .

مورې خپل لوست لولو .

تاسي دوى ته يو ليک ليږى .

## دوهم ـ ماضي يا تېره زمانه :

دا هغه زمانه ده چي يو کار په تېر وخت کي سوی وي او دا زمانه پر دري ډوله ده لکه :

### ➢ مطلقه ماضي past tens :

چي يو کار په تېره زمانه کي سوی وي لکه :

احمد ښوونځي ته ولاړ .

تا ډوډی و خوړه .

زه کور ته را غلم .

موږ ښوونځي ته و لاړو .

دوی کابل ته ولاړل .

او نور .

### ➢ قريبه يا نـږدې ماضي present perfect :

پدې زمانه کي يو کار اوس ته نيږدې په تېره زمانه کي سوی وي لکه :

تا ډوډی خوړلې ده .

موږ کتاب را وړی دئ .

تاسي کور ته تللي ياست .

زه ښوونځي ته تللی یم.

احمد شاه بابا د هیواد لپاره زیات کارونه کړي دي.

یو ټکی چي دلته ډېر مهم دی هغه دا چي په قریبه ماضي کي باید یو کومکي فعل لکه یم ، یو ، یې ، یاست ، دئ ، ده ، دي را وړل سي.

## ➢ بعیده یا لیري ماضي past perfect :

چي یو کار په لیري تېره زمانه کي سوی وي لکه :

موږ خپل کار کړی وو.
ته کابل ته تللی وې.
دوی را غلي ول.
دي د خپل پلار سره خبري کړي وې.
زه کندهار ته تللی وم.
تاسي خپل کورنی کار کړی وو.
ده موټر را نیولی وو.

د قریبي ماضي په شان په بعیده ماضي کي هم باید په هره جمله کي یو کومکي فعل لکه (وم ، و ، وې ، واست ، وو ، وه ، ول ، وې) را سي. په دغو دوو ماضیانو کي دغه کومکي فعلونه دغه دوي

ماضیاني یو له بل څخه جلا کوي.

## دریم ـ را تلونکي زمانه future :

چي یو کار په را تلونکي زمانه کي کیږي چي نښه ئي زیاتره په لیکنه کي د (به) کلمه ده لکه:

احمد به را سي.

موږ به و خاندو.

دوی به خط و لیکي.

**10 ـ تمرین:**

په لاندي جملو کي و ښیاست چي هره یوه ئې په کومه زمانه کي پېښه سوې ده. او بیا ئې د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

دی زما سره کابل ته ځي.

ته خپل لوست لولي.

دوی د احمد له تره سره ولاړه.

ما خپل کتاب لوستلی دئ.

دي تاسي ته پخوا ویلي ول.

هغه به سبا له افغانستان څخه را سي.

زه کابل ته تللی وم.

تا خپل کالي اغوستي ول.

دوی را غلي دي.

## مصدر infinitiv :

مصدر هغه کلمه ده چي د هغه څخه د فعل مختلف حالتونه جوړېږي او یا مصدر د فعل نوم دئ ، د مصدر په اخر کي (ل) وي لکه :

لیکل، کتل، ښکاره کول، ښکاره کېدل، څغستل، پرېکېدل او نور .
دلته به یو مثال را وړو چي څرنګه د خوړل د مصدر څخه د فعل نور حالتونه جوړېږي .

**مثال :** خوړل

| حال | مطلقه ماضي | قریبه ماضي | بعیده ماضي | راتلونکي |
|---|---|---|---|---|
| خورم | و مي خوړ | خوړلی مي دئ | خوړلی مي وو | و به یې خورم |
| خورو | و مو خوړ | خوړلی مو دئ | خوړلی مو وو | و به یې خورو |
| خورې | و دي خوړ | خوړلی دي دئ | خوړلی دي وو | و به یې خورې |
| خورئ | و مو خوړ | خوړلی مو دئ | خوړلی مو وو | و به یې خورئ |
| خوري | و یې خوړ | خوړلی یې دئ | خوړلی یې وو | و به یې خوري |

## امر imperative :

دا فعل د یوه کار د کولو امر کوي لکه :

ډوډی و خوره !

دلته را سه !

کور ته ولاړ سه !

کتاب و وایه ( و لوله ) !

## متعدي او لازمي فعل :

➢ متعدي فعل transitive verb :

هغه فعل ته ویل کیږي چي په جمله کي فاعل او مفعول دواړه را غلي وي او مصدر یې په لاندي ډول وي لکه :

ماتول ، پري کول ، بیدول ، ایسته کول ، خوړل او نور.

احمد قلم مات کړ .

په دغه جمله کي ( احمد ) فاعل ، ( قلم ) مفعول او ( مات کړ ) متعدي فعل دئ ، چي د ماتول د مصدر څخه جوړ سوی دئ .

➢ لازمي فعل intransitive verb :

هغه فعل ته ویل کیږي چي په جمله کي مفعول را غلی وي او د فاعل ښکاره کولو ته اړتیا نه وي او مصدر ئې په لاندي ډول وي

لکه :

ماتېدل ، پرې کېدل ، ایسته کېدل ، بیدېدل او نور لکه :

قلم مات سو .

دلته (قلم) مفعول دئ او مات سو لازمي فعل دئ . پدې کې شک نه سته چې د (ماتېدل) فعل یو فاعل لري مګر دلته په جمله کې نه دئ راغلی . د لازمي فعل د یوه مصدر مثال :

بیدېدل (ویدېدل)

| حال | مطلقه ماضي | قریبه ماضي | بعیده ماضي | راتلونکي |
|---|---|---|---|---|
| بیدېږم | بیده سوم | بیده سوی یم | بیده سوی وم | بیده به سم |
| بیدېږو | بیده سوو | بیده سوي یو | بیده سوي وو | بیده به سو |
| بیدېږې | بیده سوې | بیده سوی یې | بیده سوی وې | بیده به سې |
| بیدېږئ | بیده واست | بیده سوي یاست | بیده سوي واست | بیده به سئ |
| بیدېږي | بیده سو | بیده سوی دئ | بیده سوی وو | بیده به سي |
| بیدېږي | بیده سول | بیده سوي دي | بیده سوي ول | بیده به سي |

## 11 ـ تمرین :

د (کول) د متعدي فعل او د (کېدل) د لازمي فعل د مصدرونو څخه د فعل نور حالتونه جوړ کړئ او بیا یې د جوابو له پاڼې سره وګورئ .

## قـيد Adverb

قيد هغه کلمه ده چي په جمله کي پر فعل ، صفت او بل قيد باندي تاثير وکي لکه په لاندي جملو کي :

ـ سدو په خندا راغی .

په لوړه جمله کي ( په خندا ) قيد دئ ځکه چي د راغی پر فعل ئې تاثير کړی دئ .

ـ د ده کور په هغه ډېر جګ تعمير کي دئ .

په لوړه جمله کي ( ډېر ) قيد دئ ځکه چي د ( جګ ) پر صفت ئې تاثير کړی دئ .

ـ زمرک ډېر ژر راغی .

په لوړه جمله کي ( ډېر ) قيد دئ ځکه چي د ( ژر ) پر قيد يې چي د ( راغی ) د فعل لپاره قيد دئ ، تاثير کړی دئ .

# د وصل توري Conjunction

دا هغه توري دي چي دوه اسمونه یا دوې جملې سره نښلوي لکه په لاندې جملو کي :

احمد او محمود راغلل.

ده و ویل چي دی ناروغه دئ.

دی را غئ مګر دوی را نه غلل.

که څه هم ته په کور کي نه وې زه را غلم .

دی به درسي که ته غواړې .

یا به دی یا به دا موټر و چلوي.

هر څومره چي مي در ته و ویل غوږ دي و نه نیوی.

احمد رانه غی لکه چي نا روغه وو .

په لوړو جملو کي (او، چي، مګر، که څه هم ، که ، یا...... یا ، هر څومره چي، لکه چي) د وصل توري دي.

# د ربط توري preposition

د ربط توري د اسم یا ضمیر سره یو ځای را ځي او د اسم یا ضمیر رابطه له فعل سره ښیيي لکه:

احمد محمود ته و ویل.

ما په ښوونځي کي لوست و وایه .

په لوړو جملو کي (ته، په) د ربط توري دي.

د ربط نور توري لکه: (پر، تر، له، سره، ځخه ، و ، د ، پوري ، باندي ، په ...کښي، له...ځخه او نور).

د ګرامر د تمرینونو جوابونه د کتاب په پای کي دي.

# د ګرامر د تمرینو د جوابو پاڼه

1 ـ تمرین :

یو سړی ډاکتر ته ورغی او د خپلي ناروغۍ څخه ئې شکایت وکړ .

ډاکتر ور ته و ویل : "ولي وختي را نه غلې"؟

ناروغ ور ته و ویل : "پخوا مي د یوناني طبیب څخه دوا اخیستله".

ډاکتر و ویل : "هغه مزخرف سړی دئ او د ځو مزخرفو دواوو نومونه ئې زده دي او ډېر نه پوهیږي".

ناروغ و ویل : "هو ! ستا مزخرف نوم ئې هم زده وو " .

2 ـ تمرین :

| | | |
|---|---|---|
| سلماني | ویني | وخت |
| سړي | پوښتنه | ورونه |
| سر | جواب | چړي |
| چاړه | | |

3 ـ تمرین :

خاص اسم : احمد شا بابا، هندوستان ، کندهار

عام اسم : سفر، لښکر، خوا ، ښار ، شپې ، تیاري ، عسکر ، تېښته، کور .

4 ـ تمرین :

| مفرد اسم | جمع |
|---|---|
| غل ، غله | غله ، غلو |
| سړی | سړي |
| کور | کورونه |
| دېوال | دېوالونه |
| خاوند | خاوندان |
| سوری | سوري |
| پښه | پښې |
| ناره | نارې |
| ورور | وروڼه |

5 ـ تمرين :

| مفعول | فاعل |
|---|---|
| انځر ګل | خوشال |
| احمد | موږ |
| تلويزيون | احمد |
| تلويزيون | موږ |
| د فتبال لوبه | |
| د احمد پلار | موږ |

6 ـ تمرين : ده ، د دي ، د ده ، ما ، د دې ، تا ، دوی ته ، زما

7 ـ تمرين :

| غايب | مخاطب | متكلم |
|---|---|---|
| د دې ، د ده | تاسي | |
| دوی | | |
| ده | | |
| دوی | | ما |
| هغې | تاسي | |

8 ـ تمرین : ښه ، سره ، ښکلی ، لوی ، جګې

9 ـ تمرین : راځي، کیږي ، اخلي ، راوړه ، خبري کوي

10 ـ تمرین :

| فعل | زمانه |
|---|---|
| ځي | حال |
| لولې | حال |
| ولاړه | مطلقه ماضي |
| لوستلی دئ | قریبه ماضي |
| ویلي وه | بعیده ماضي |
| به ... را سي | راتلونکې |
| تللی وم | بعیده ماضي |
| اغوستي ول | بعیده ماضي |
| را غلي دي | قریبه ماضي |

11ـ تمرین:

## کول

| حال | مطلقه ماضي | قریبه ماضي | بعیده ماضي | راتلونکې |
|---|---|---|---|---|
| کوم | و مي کی (کړ) | کړی مي دئ | کړ مي وو | و به ئې کړم |
| کوو | و مو کی (کړ) | کړی مو دئ | کړی مو وو | وبه ئې کړو |
| کوې | و دي (کړ) | کړی دي دئ | کړی دي وو | و به ئې کړې |
| کوی | ومو کی (کړ) | کړی مو دئ | کړی مو وو | و به ئې کړی |
| کوي | وئې کی (کړ) | کړی ئې دئ | کړی ئې وو | و به ئې کړي |

## کېدل

| حال | مطلقه ماضي | قریبه ماضي | بعیده ماضي | راتلونکې |
|---|---|---|---|---|
| کېږم | سوم | سوی یم | سوی وم | و به سم |
| کیږو | سوو | سوي یو | سوي یو | و به سو |
| کېږې | سوې | سوی یې | سوی وې | و به سې |
| کېږی | سواست | سوي یاست | سوي واست | و به سی |
| کیږي | سو | سوی دئ | سوی وو | وبه سي |
| کیږي | سوه | سوې ده | سوې وه | و به سي |
| کیږي | سوه | سوي دي | سوي وه | و به سي |

# Pashto grammar

Ali Rasulzada

20180218